پہ پکتیکا، خوست او د هیواد پہ نورو ولایتونو کې د ویجاړونکې زلزلې پہ اړه د افغانستان اسلامي جمهوریت د دیپلوماتیکو استازولیو اعلامیه

جون، ۲۲ ۲۰۲۲

تېره شپه د افغانستان څو ولایتونه سختې او وېجاړونکې زلزلې وځپل چې په ځانګړي ډول د پکتیکا او خوست ولایتونه له دې مخکې هم د طبیعي آفتونو، شدیدې وچکالۍ او د زېربنابو د کمبود له امله له ستونزو سره مخ وو. پکتیکا د افغانستان هغه لرې پروت ولایت دی چې په تېرو کلونو کې د بېلابېلو ورانیو شاهد پاتې شوی دی .

د بېلابېلو سرچینو په حواله، په بېکانۍ زلزله کې تر ۸۰۰ تنو مړه او ټپیان شوي دي. تر ټولو ډېر تلفات د پکتیکا ولایت په برمل، زیروک، ګیان او نیکه ولسوالیو کې ښودل شوي چې د ګیان ولسوالۍ ځینې کلي له منځه تللي دي .

ټاکل شوې چې د دې پېښو قربانیانو ته د درناوي په موخه، د افغانستان اسلامي جمهوریت د دیپلوماتیکو استازولیو بیرغونه د روان کال د جون په ۲۳مه نېټه، د پنجشنبې په ورځ نیمه ځوړند وي .

د افغانستان اسلامي جمهوریت دیپلوماتیکې استازولۍ، په افغانستان کې زرګونه زلزله ځپلو ته د مرستو رسولو لپاره، له ټولو هیوادونو، بین‌المللي سازمانونو، بنسټونو او افرادو څخه د سخاوتمندانه ملاتړ غوښتنه کوي .

موږ د زلزلې د قربانیانو کورنیو او هغو ټولو خلکو ته د زړه له کومي تسلیت وایو چې د دې وېجاړونکې زلزلې له امله زیان ور رسېدلی دی.

--